مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

استاد محمد آصف صمیم ۲۰۱۸/۰۸/۱۵

د دویم خیرالبیان زېری



یادونه: د استاد محمد آصف صمیم دغه مقاله په باړه ګلی کې د پښتو نړیوال سیمینار (۸-۶ اګست ۲۰۱۸م.) له پاره لیکل شوې او هلته لوستل شوې ده.

د لومړني قلموال په نامه

درنو پوهانو! ښاغلو قلموالو، محققینو او د پښتو ژبې او ادب د ودې سپېڅلو مینه والو !
د پېښور پوهنتون د پښتو اکاډیمۍ قدرمن مشر ډاکټر نصرالله جان وزیر او د اکاډیمۍ د علمي او ادبي بورډ درنو غړو!
خپل سلامونه، نمانځنې، درناوی او تاوده احساسات درته د ګران سایل صاحب له دې الفاظو سره وړاندې کوم چې:
پېښور او کابل دواړه دوه یارن دي
لکه دوه سترګې په یو مخ د جانان دي

زه نن ځان په اته ویشت کاله وړاندې جامه کې وینم؛ ځکه په جامو کې نه ځایېږم، نن هم د درو لسیزو وړاندې په څېر د ژبې، ادب او کولتور د جانان په یو مخ دوه ښکلې سترګې د طبیعت په دې رنګین، وړمین او ګلورین موسم کې د زړه د درزا انځورونه خوندي کوي.
نن ماته هغه څه کم دېرش کلن مینه وړي انځورونه سترګو سترګو ته کېږي، چې د ۱۹۹۰ په جولای کې د پښتو اکاډیمۍ په نوښت د اکاډیمۍ درانه مشران، پښتانه مشران او په پښتون ثقافت مین مشران د پښتو لیکدود د یو کولو په تکل لرو او برو شاوخوا سلو مېلمنو ته سترګې او لېمه غوړولې ولاړ وو:
اروابناد پروفیسر محمد نواز طایر، اروابناد ډاکټر راج ولي شاه خټک، پروفیسر تقویم الحق کاکاخېل، منتظر بېټنی، ډاکټر ګل جان ورور وردګ، اروابناد پروفیسر سید احمد مومند او اروابناد استاد پسرلی او ... د پښتو ادب په هار کې د مرغلرو په څېر ځلېدل.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په ستر درشل کې يې ارواوې ښادې غواړم.
درنو پوهانو!
تاسې د پښتو اکاډيمۍ درانه خادمان د ډېرې مبارکۍ وړ يئ ، چې يو ځل بيا مو تر يوه درې لسيز ځنډ وروسته د خپلې ژبې د ډيوې پتنګان د خپلې مينې په لمبو تودېدو ته رابللي دي.
د خپل افغاني کاروان د ملګرو په استازۍ تاسې ټولو ښاغلو ته د زړه له تله مننه او دننني بختورې غونډې د کور به توب مبارکۍ وړاندې کوم.
ما ستاسې درنو، رالېرلې بلنې ته د موضوع د سرليک د انتخاب له واک سره سم پر يوې داسې موضوع د قلم خوځولو ته زړه ښه کړی، چې شپږلسيزې وړاندې همداسې يو چا د پښتو په علمي او کولتوري صحرا کې په دې عبارت د خپل زېږي غږ داسې انګازن کړ:
1((*د ټيوبنګن د لايبريرۍ د شرقي علومو د حصې مشر ډاکټر کريمر زموږ انتظارو. مونږ اول د لايبررۍ د مختلفو شعبو مشرانو سره پېژندګلو وکړه او بيا ډاکټر کريمر ماته وويل چې دا څه کتاب دی چې ته يې دومره غرضې يې؟ ما ورته د خير البيان اهميت بيان کړ او ورته مې وويل چې د دې کتاب د کومې نسخې اميد چې مونږ (د امريکې له سفرنه) لاره، هغه اميد هم ختم شو، خدای دې وکړي چې د جرمني په کتبخانو کې پيدا شي. ډاکټر کريمر وې ، چې مونږ څخه پنځه پښتو قلمي نسخې دي، خدای دې وکړي چې په دې کې وي... لاړو ښکته کوز شو چې کتابونه وګورو. ډاکټر کريمر اواز وکړو، چې های دی، کتاب مې بيا موند، ماو رته هسې په ناخواله غوندې انداز کې وويل چې کوم کتاب دی؟ ويل يې: د کتاب نوم خيرالبيان دی؟ ما ويل هو! ويل تصنيف د بايزيد انصاري دی؟ ما ويل هو! ويل واخله کتاب دا دی. زما چرته يقين راته، چرته د جرمني ټيوبينګن ښار کتبخانې او چرته دا ورکه خزانه. ما کتاب واړوه او ښه په ځير مې ورته وکاته او ډېر ساعت پس هيله ځای ته راغلم، چې دا خو ريښتيا خيرالبيان دی... زه بيان نشم کولی چې ډاکټر کريمر او ډاکټر پيرټ دواړه څومره خوشحاله شو ان، چې ماته راغاړې وته.
ډاکټر کريمر ماته مخ راواړو او ويې ويل: چې زه نور هېڅ نشم ويلی، بې د دې نه چې قدرت دا ليکلي وو، چې دا کتاب ستا د اوږد تلاش نه پس، هم ستا په لاس دنيا ته وړاندې شي.
(مولينا عبدالقادر- پښتو مجله ۱۹۵۹ – اپرېل – جون \ ۱۰ مخ)
ستاسې تلوسه به د دې کيسې او تليادې خاطرې په اورېدو ماته شوې وې؛ خو زه د اروابناد مولينا عبدالقادر په لاس د ړومبنې خيرالبيان د موندنې د زېږې، چاپ او بيا بيا چاپونو د تسلسل په وروستې پړاو کې له همدغسې يوه علمي زېږې او ادبي خوشحالۍ سره ستاسې مخې ته ولاړيم. دا زېږی د دويم بشپړخيرالبيان زېږی نومېږي.
د دې زېږې د انځورونې او تصوير خاکه ما داسې رغولې چې په سر کې د ړومبنې خيرالبيان په خطي او چاپي نسخو يو څو خبرې لرو او بيا مو د نوي او دويم خيرالبيان په کيسه کې له ځان سره مله کوم.

خيرالبيان:

خيرالبيان د بايزيد روښان يو لوی او ولوله انګېز اثر دی چې روښان يې په الهام د ليکلو دعوی لري او د ده د همدې دعوې دتاييد او مخالفت انګېزې او محرکې وې ، چې مخالفينو يې د سېځلو او ورکولو هوډ وکړ؛ خو مريدانو او ملاتړو يې د خوږ لاس په څېر ګرځاوه؛ څومره چې مخالفيو د خيرالبيان په ورکاوې پسې پښې لوڅې کړې وې، هغو مره يې پلويانو او مبلغانو فقهي او ادبي ارزښت زيات کړ، چې همدغو مخالفينو يې هم د ادبي او مذهبي سبک او شهرت په عاملو کې ناشعوري ونډه واخيسته.
د خيرالبيان د موندنې کيسه په مخکې څو کرښو کې په لنډيز تېره شوه، چې چا؟ څنګه؟ او چېرته وموند؟ او دا ترې جوته شوه، چې لوی خدای د خپلو نېکانو ګاللی زيار په اوبو نه لاهو کوي، د همدې الهي سنتو په حکم هغه خيرالبيان هم د پښتنو له ټاټوبي او ټولنې نه په زرونو فرسنګونو لرې (د جرمني ټيوبنګن کې) وموندل شو او دا د هماغه خيرالبيان نسخه وه چې په برتانوي هند کې د سرډيني سنراس نومې پيرنګې په لاس له پښتونخوا نه انګليستان ته رسېدلې وه او په ۱۹۲۶ کې يې ناروېژي ژبپوه پروفيسر مارګنستېرنې ته د کتو لپاره ورکړې،مارګنستېرنې ترې يادښتونه اخستې وو، چې ۱۳ کاله وروسته يې د New Indian antiquary مجلې د ۱۹۳۹ د نومبر ګڼې په ۵۶۶ – ۵۷۴ مخونو کې تحقيقي مقاله پر وليکله او داسې يې د علمي او ادبي نړۍ ټولې کړې لومړۍ ځل د خيرالبيان له نامه سره اشنا کړې.
د مارګنسېترنې له خوا ددې نسخې تر پېژندنې څلرويشت کاله وروسته د علامه عبدالحی حبيبي په قلم دخيرالبيان لاپېژندګلوۍ د دوی د پښتو ادبياتو تاريخ دويم ټوک ته لار ومونده او هغه پرنسخه او روښاني غورځنګ ۱۱۷ مخه څېړنيزه مقاله وليکله. د پوهاند حبيبي تر ليکنې ۴ کاله وروسته د پېښور پښتو اکاډيمۍ د خيرالبيان همدا نسخه د حافظ محمدعبدالقدوس قاسمي له ۹۲ مخيزه عالمانه ليکنې سره په ۱۹۶۷ کې چاپ کړه، چې د همدې چاپي نسخې له مخې بيا دوځله نوره هم په ۱۹۸۸، ۲۰۰۷ کال کې کټ مټ (البته) د پښتو اکاډيمۍ د وخت د رييسانو(پروفيسر محمد نواز طاير او ډاکتر نصرالله جان وزير) له سريزو سره.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېرلو مخکې په ځير و لولئ

په رومبی چاپي نسخي پسي جوخت په ۱۳۵۳ ل – ۱۹۷۴ کي د کابل پوهنتون او پښتو ټولني له خوا په ګډه په (الف – ب، ج، د) + ۹۸ مخه د پوهاند حبيبي، استاد ببنوا، پوهاند اعبدالشکور رشاد له شپږ مخه علمي ليکنو، فهرست او ۱۶۷ مخه متن او ۱۲۲ مخه (د خيرالبيان لغتونه) سره چاپ شو.
تر دې چاپونو وروسته په ۱۹۸۶ کي (د پښتو ادبي مرکز سرای نورنګ- بنو) له خوا په وړه کچه د ښاغلي او منلي ځېړونکي حبيب الله رفيع په زيار او سريزه په ۱۹۰ مخو کي د پېښور پوهنتون د پښتو ماسټرۍ د نصاب د درسي اثر په توګه چاپ شو.
په ۱۹۸۸ کي د خيرالبيان د تنقيدي مطالعي په نامه د ارواښاد قلندر مومند لخوا په ۱۹۰+۲۵۳+۴ مخو کي د قلندرمومند له خوښ کړي او جوړ کړي متن سره چاپ شو، چي ډاکتر عبدالخالق رشيد يي په اړه ليکي: قلندر صاحب بالکل پرنورو ژبو خاوري وروړولي او يواځي پښتو خيرالبيان يي... په داسي چلند چي علم او تحقيق يي کله هم نه مني، زموږ په مخ کي داسي کېښود لکه ارواښاد بايزيد روښان چي ده ته ويلی او يا يي د ده په قوماندې ليکلی وي.
(خيرالبيان ۲۰۱۸- ۶ مخ)
د متن غورچاڼ ته قلندر صاحب د خيرالبيان د درېيم قراءة نوم ورکړی او په هغه کي يي له متن څخه آيتونه او حديثونه وويستل او همدا يي اصل خيرالبيان وباله. ارواښاد مومند په دې عقيده و چي خيرالبيان ته دا آيتونه، حديثونه او د اولياوو مقولي بي له بايزيده نورو کسانو وراچولي دي. خو د بايزيد خپلو بيانونو او د خيرالبيان د دويمي نسخي پيدا کېدو د ده خبره سپيازه کړه.
په ۱۹۸۴ کي ياني تر لومړۍ نسخي ۲۶ کاله وروسته د پښتو کلاسيک ادب په ارام سمندر کي يو ځل بيا د يو خيرالبيان او بشپړ خيرالبيان يو توفان را ولاړ شو او دا ځل دا راولاړوونکی مانو د پښتو ادب يو وتلی، ټولمنلی ځېړونکی او سر څېړونکی زلمی هېواد مل و چي د هندوستان له سالار جنګ – حيدرآباد- دکن موزيم نه يي پر پښتنو فرهنګ مينو زېړی وکړ، چي د پښتو مينوالو ته د زوی له زېړي کم نه و.
د خيرالبيان دا بشپړه نسخه زموږ دقيق محقق له ټول کم او کيف سره پخپل اثر (د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخي -۱۳۶۳ش.) کي معرفي کړ. د دې خيرالبيان چاپ ته زما په څېر ډېر تنده غړي د روژي د ماښام په شان تږي تږي ناست وو. په هند کي د ډاکټر عبدالخالق رشيد په ګډون د دې وياړ ارمان هر چا وکړ، خو اخر هم د وياړ دا شمله د داسي چا پرسر شوه چي له هېواد، خپل ولس او هېوادنيو فرهنګي اسانيو ډېر لرې د پردېسي او جلاوطنۍ وير هم ګالي او د خپلي ځنډني ناروغۍ (شفاه الله تعالی) درد هم.
استاد محمد معصوم هوتک د علامه رشاد بابا د يوه علمي ځايناستي (صالح خلف) په توګه د تحقيق او کره کتني او کلاسيکو متنونو د سمون د لارې يو ناستومان لاروی دی، د ډېرو نورو متنونو د سمون تر څنګ يي دا دی په يواځي ځان د خيرالبيان د انتقادي متن د برابرلو د روند پېټی زموږ مخي ته د سترګو يخولو لپاره کېښود.
د استاد هوتک دا ګاللی زيار له خپل فرهنګي چاپېريال د واټن ربړه به استاد د دې متن د بشپړ کره والي د ارمان د لارې خنډ ضرور وي او د دې متن لکه څنګه چي ما په بيا بيا (درې ځله) لوستو اندازه واخيسته، د دقيق او کره متن د تهيي انديښني به انديښمن کړی وي؛ ځکه نو که د دې نوي خيرالبيان متن څه املايي او طباعتي مغشوشتياوې لري! نو د هغوی تسلي ماځان او استاد هوتک ته په دې ژمنه ورکړه، چي د اثر دسمون په موخه دايو خيرالبيان په دې ارزي، چي د سباني مصحح (پاک رب دې استاد هوتک پخپله جوګه کړي) لپاره مغشوش ځايونه په رنګ ورنګول شي.
سملاسي خو په همدغسي يوه هيله او اسره خپلي خبري رانغاړم او ترمخه ښي وړاندې د دې بشپړ او نسبتاً کره خيرالبيان د ټولو هغو ښاغلو رامنځته کوونکيو مننه کوم، دا درانه وياړلي، نمانځلي او په ښه نامه پاپېدلي ښاغلي دا دي:
سرمحقق استاد زلمی هېوادمل
استاد ډاکتر عبدالخالق رشيد
ښاغلی حبيب الله رفيع
ښاغلی استاد محمد معصوم هوتک
د ستر خوشال د دعاليه ورته ډالۍ کوم
چي:

نـېکـخواه دې ژوه، بـدخـواه دې ومره
زه بـــرله تا خورم – تــه برله عمره

محمد آصف صميم
۹\۵\۱۳۹۷
کابل

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ